# د پښتو مورفیمونو جنسیت

**The Gender of Pashto Morphemes**

محمود مرهون*

**Abstract:**

Among Indo-Aryan languages, Pashto is the language with complete rules and regulations. Every grammatical and linguistic issue has its own systematic formula. Pashto is the Indo-Aryan language that has maintained the historic principle of gender (masculine and feminine), even though it has lost neuter gender. In Pashto, masculine and feminine genders are not based on the gender of the noun, but on the final sounds of words, for which there is a unique formulaic system. This article centers on the final letters of Pashto words, which determine the gender of words.

**Key words:** masculine and feminine, determine, feminine genders.

**لنډیز**:

پښتو ژبه د هندو اریایي ژبو هغه ژبه ده چي د پوره قانونمندۍ څخه برخمنه ده. هره ګرامري او ژبنۍ مسئله یې خپل سیستماټیک فورمول لري. پښتو ژبه په اریایي ژبو کي هغه ژبه ده چي د لرغونتوب یو اصل (مونث او مذکر) یې همغسي ساتلی دئ که څه هم چي مخنث یې له لاسه ورکړی دئ. د پښتو ژبي د کلمو مونث او مذکر والی د شیانو د جنس پر اساس نه بلکي د کلمو د اخیري اوازونو پر اساس دئ چي د یوه خاص فورمولیک سیستم درلودونکی دئ. دغه مقاله د پښتو ژبي د کلمو پر وروستیو تورو چي د کلمو جنسیت ټاکي را ګرځي.

کلیدي کلمې:فونیم، مورفیم، خپلواک توري، ناخپلواک توري، کلمې، مونث، مذکر

**سریزه**:خپلواک توري په ژبه کي تر ټولو اساسي او کارنده توکي دي. د نړۍ په ژبو کي هیڅ داسي کلمه نسته چي بېله خپلواکو تورو دي منځ ته راسي او یا دي هجا جوړه کي. په پښتو ژبه کي خپلواک توري خپل خاص ارزښت لري چي د کلمو په ورستیو کي راتګ یې یو لوی ګرامري ارزښت لري او کلمو ته جنسیت ټاکي. مونثي او مذکري کلمې یوازي تر دې پوري محدودي نه پاتېږي چي خپل پر جنسیت باندي تاثیر وکړي بلکي دغه کلمې د خپل جنسیت په پام کي نیولو سره په یوه ګرامري او نحوي ساختمان کي د جملې ټول جوړښت په خپل ځان پسي را کاږي او د ټولي جملې جوړښت و نوم ته په کتو چي مذکر دئ که مونث ګردانېږي. زموږ دغه کوچنۍ مقاله پر همدې مسئله را ګرځي چي د نومونو جنسیتي اړخ څنګه معلومېږي.

* Lecturer, Depatrment of Pashto, University of Kabul, Afghanistan

**اصلي موضوع:**

د پښتو ژبپوهان د پښتو ژبې له څېړنې، کتنې او مطالعې وروسته پر دې خبره سره سلا شوي دي چې په معياري توګه د لهجوي خصوصياتو په نظر کې نه نيولو سره په پښتو ژبه کې اووه معمول واولونه شتون لري.(۱٤:۳- ۹: ٦۸) دغه واولونه هر يو يې پر خپل ځای ارزښت او مهم رول لوبوي. دا اووه واولونه عبارت دي له (آ،ه، ،ي،ې،و،و) څخه په دغه نخښو کې دريمه نخښه د پښتو زورکی بولي چې په لرغونې پښتو کې يوه خورا ښه او پر ځای نخښه ورته موجوده وه چې يوه وړه کرښه به لکه د زورکې والي (ی) په اخير کې چې شته کارول کېده. دغه ډول د زورکي استعمال تر ډېره ځايه په لاس ليکل شو متونو کې ليدل کېږي چې آن تر (۱۳۱٥) هجري قمري کال پورې په پښتو ګرامر کې ژوندی وه او آن د مجاهدينو تر انقلابه پورې کارول کېده او د مجاهدينو د دورې کتابونه چې تاسي و ګورئ د دغه نخښې ډېر مثالونه به په لاس درشي. د طالبانو د حکومت په لومړيو کې هم ترڅه وخته پورې وه خو وروسته چې نور ټول چاپ چاري کمپيوټري شوې نو دا نخښه له منځه ولاړه او زور(ه) او زورکی( ) په يوه شکل ليکل پيل شول چې هم يې ګرامري نيمګړتيا رامنځ ته کړې او هم د ګرافيمونو تر منځ تېروتنه.

خو موږ دلته دې موضوع ته ډېر نه درېږو مستقيم راځو په پښتو ژبه کې د دغه تورو تاثيراتو او دندې ته چې فونتيکې او فونيمکې دواړه شکلونه يې له مثالونو سره داسي دي:

| شماره | توری | فونتيک شکل | مثال |
|---|---|---|---|
| ۱ | آ | Ā | آسيا ،امريکا ،کاناډا |
| ۲ | ه | A | تخته،پښه،پياده |
| ۳ | | ə | نيکه،وراره،لېوه |
| ٤ | ي | I | خپلوي،سړي،منګي |
| ٥ | ې | E | خولې،کوټې،مستې |
| ٦ | و | O | بيزو ،پيشو ،زانګو |
| ۷ | و | U | سالو ،بازو ،تالو |

(۹: ٦۸- ۳: ۱٤)

اوس راګرځم خپلې اصلي موضوع ته چې په پښتو ژبه کې د کلمې وروستی فونيم څونه مهم دئ او څونه ارزښت لري؟

مخکې تر دې چې اصلي موضوع تر ور داخل شو په بحث کې د دخيلو دوو مهمو کلمو (فونيم او مورفيم) پېژندنه خورا اړين او مهم کار ځکه دئ چې د ليکنې تر پايه بحث پر همدې دوو راګرځي:

۱:**فونیم**:

فونیم تر ټولو کوچنی ږغیز واحد دئ چې خپله په ازاده توګه کومه مانا نه لري مګر په مانیزو کلمو کې مانیز تغیر منځ ته راوړي. (٤: ١١- ٩: ١٤) یعني دا چې که چېري موږ کومه مانا لرونکې کلمه و شنو نو هغه مانا لرونکې کلمه خپله مانا له لاسه ورکوي،لکه په لاندي مثالونو کې:

کور.......ګور.............د ک او ګ فونیمونو په بدلون سره پوره کلمه بدله سوه.

لور......تور............د ل او ت فونیمونو په بدلون سره پوره کلمه بدله سوه.

سل......شل............د س او ش فونیمونو په بدلون سره پوره کلمه بدله سوه.

او داسي نو په زرهاو مثالونه هم شته.

۲:**مورفیم**:

مورفیم یو کوچنی ژبنی واحد دئ چې خپله هم مانا لري او هم یې نه لري. که څه هم چې په اکثرو پښتو ګرامرونو او ژبپوهنیزو اثارو کې مورفیم همېشه مانا لرونکی توک بلل شوی.(٤: ١٩- ٩: ١٩- ٦: ٢٣) مګر تړلي مورفیمونه هیڅکله په ازاده توګه مانا نه لري مګر د کلمې د مانا په بدلولو کې مهم رول لوبوي له یوه یا څو فونیمونو څخه جوړ دئ،پر دوه ډوله دئ تړلی مورفیم او ازاد مورفیم ازاد مورفیم په مستقله توګه مانا لېږدوي او تړلی مورفیم په ازاده توګه خپله مانا له لاسه ورکوي: (٧٥:١١- ٧٦ )

| ازاد | | تړلی | | |
|---|---|---|---|---|
| کتاب | + | ونه | = | کتابونه |
| پوهنه | + | تون | = | پوهنتون |
| سړی | + | ي | = | سړي |
| خوله | + | ې | = | خولې |

او داسي نور

په پښتو ژبه کې د کلمې اخیري فونیم د کلمې څرنګوالی(جنسیت) ټاکي چې ایا دا کلمه مذکره کلمه ده او که مونثه ، دا ځکه چې په پښتو ژبه کې فونیم پر مورفیم او مورفیم پر جمله باند تاثیر لري او د یوه او بل جوړښت ته تغیر ورکوي. د پښتو کلمو دغه تاثیرات په اوستا او نورو لرغونو اریایي ژبو کې هم همداسي دي.(٥: ١٩- ٦١-٦٢-٦٣)

یوه بله خبره چې په عمومي توګه په ټولو ژبو کې د پام وړ ده هغه دا چې په هیڅ ژبه کې د کلمې مذکرتوب او مونث توب نومونه د هغه شي د څرنګوالي(جنسیت) په نظر کې نیولو سره نه تر سره کېږي بلکې د کلمې د فونولوژیکې جوړښت له مخي کېږي یعني ډېري په لکهاو کلمې شته چې فونولوژیکې جوړښت یې مونث دی مګر نومول شوی شی مذکر دئ او یا هم برعکس.

موږ په دې وړه لیکنه کې د پښتو د فونیمونو رول د کلمې په اخیر کې څېړو چې د پښتو فونیمونه چې کله د کلمې په اخیر کې راځي کلمه څنګه اړوي او کلمې ته کوم شکل ورکوي. د دغه موخې د تر سره کوني له پاره هر واول جلا جلا څېړو او څرنګوالی یې ځان ته مالومه وو:

**۱:الف___ ا** ā_____

د پښتو ژبې ټولې هغه کلمې چې په اخیر کې (آ) فونیم راشي هغه کلمې په مونثو کلمو بدلیږي او ټوله جمله د ځان پسې تر ګرامري قواعدو لاندې راکاږي،مثلاً:

لیبیا تر جنګ لاندې ده. افغانستان تر جنګ لاندې دئ.

په پورته جملو کې موږ وینو چې لیبیا او افغانستان داوړه هیوادنه دي دواړه تر جنګ لاندې دي مګر چون د لیبیا د کلمې په اخیر کې د مونثیت فونیم راغلی دئ نو د ټولې جملې جوړښت یې د ځان پسې ورکښلی دئ.

**یادانښت**: په پښتو ژبه کې مونثي کلمې پر درې ډوله دي. یو هغه مونثي کلمې دي چې د جنسیت له مخې ټاکل شوي دي او جوړ ه لري لکه:

نر-ښځه،چرګ-چرګه،غوا-غوایی او نور.

بل ډول مونثي کلمې هغه کلمې دي چې د تانیث علامه(آ یا ه) یې په اخیر کې راغلې وي. دریم ډول کلمې هغه کلمې دي چې معناً هغه کلمې مونثې دي لکه: مور، خور، ترور، یور، ایندرور...

یوه خبره چې له ډېره وخته په پښتو ژبه کې عامه ده هغه دا ده چې په پښتو کې د عربي ژبې په څېر مونث سماعي کلمې هم شته چې دا یوه بې ځایه خبره ځکه ده چې د ژبې د تاریخي اوښتون په اوږدو کې په هغو کلمو کې اوښتون راغلی دئ په پښتو کې هیڅ مونث سماعي کلمه نشته چې ځینو کتابونو لاندې کلمې په مونث سماعي لیکلې دي چې مونث سماعي نه دي:

لمن....لمنه.......لمنې

میاشت....میاشته....میاشتې

لویشت.....لویشته....لویشتې

داسې په سلهاوه نوري کلمې شته چې متحرک الاخیره دي مګر په ساکن الاخیره کلمو بدلې شوي دي چې دا کار په اوستا او سانسکریت ژبو کې هم تر سترګو کېږي چې یو ښه مثال یې د دامنه په دامن بدلیدل ښوولای شو.(۵: ۱۰۱-۱۰۲-۱۰۳)

یو بل سوال چې د لوستونکو په ذهنونو کې ور وګرځي هغه دا چې د (کاکا،ملا،بابا،دادا،ماما،ابا...) کلمو په اخیر کې خو هم (آ) راغلی دئ مګر هغه خو مذکري کلمې دي؟ د دغه سوال د جواب له پاره یوازې همدا جواب بسنه کوي چې دغه کلمې په اصل کې صفتونه دي او موصوفات یې مذکر دي نو په دې اساس دا کلمې په مذکرو کلمو کې راځي او ځنې داسې

کلمې هم شته چې هم مذکري دي او هم مونثي يعني داسي صفتونه دي چې کله له نارينه سره راشي نارينه اصول پر تطبيقيږي او که چېري له مونث سره راشي نو بيا ښځينه اصول ور سره تر سره کيږي.( ۳: ۲۸-۲۹-۳۰) لکه :

اشنا : اشنا مي راغله.

اشنا مي راغئ.

**۲**:زور___ه_____a

د پښتو ژبي ټولي هغه کلمې چې په اخير کې يې زور راشي د هغې کلمې جنسيت مونث ګرځي لکه: تخته،پزه،پښه،باغچه او داسي نور .

دلته بيا هم ځني کلمې شته چې په اصل کې صفتونه دي په اخير کې زور راغلی دئ مګر بيا هم و موصوف ته په کتنه سره يې ځرنګوالی ټاکل کيږي لکه:

ساده:

ساده سړی.

ساده ښځه.

پياده:

پياده هلک.

پياده نجلۍ.

**۳**:**زورکی**_____ ( **يا ه** )_________ə

په پښتو ژبه کې ټولي هغه کلمې چې په زورکې پای ته رسېدلي وي مذکري کلمې دي لکه: نيکه،وراره،لېوه،زړه او داسي نور...

دلته هم ځيني داسي کلمې شته چې په اخير کې يې د زورکي غوندي اواز شته مګر جنسيت يې مونث دئ دا ډول کلمې هم د تاريخي اوښتون په مرحله کې اوښتي دي يعني اصلي شکل يې داسي نه دئ بلکې د زمان له اوښتو سره سم د دوئ په بڼه کې تغير راغلی دئ چې اوس هم په ډېرو لهجو کې په هغه پخواني شکل ويل کيږي دغه کلمې عبارت دي:خوله،وياله،چاړه ...

**۴**:**لنډه يا**_________(**ي**)__________ (I)

په پښتو ژبه کې د (ي) فونيم دوه حالته لري يعني هم د مورفيم په شکل راځي او هم د فونيم کله چې موږ د اسمونو څخه مونث صفتونه جوړه وو نو په هغه حالت کې د فونيم په شکل کې رول لوبوي لکه:

خپل.....خپلوي

دوست.....دوستي

ښاد......ښادي

مست....مستي

شوخ......شوخي

او کله چې بیا د مذکرو او یا هغه مونثو اسمونو د جمعي له پاره و کارول شي چې د تانیث نخښه(ه) یې په ښکاره تلفظ نه شي او یا یې هم خج د ماقبل اخیر واول پر سر راشي نو بیا مورفیم ګرځي،لکه:

ژمی.....ژمي

منی.....مني

سړی .....سړي

پسرلی...پسرلي

یا مونث:

ښځه ......ښځي

مینه.......میني

پزه ........پزي

کوټه.......کوټي

۵:**اوږده یا**__________(**ې**)_______ (e)

دا فونیم هم د پورتني واول په څېر دوه حالته لري په ټولو هغه کلمو کې چې په اخیر کې یې نوموړی واول راشي هغه کلمه مونثه کلمه ده او که چیري کلمه ساده وه او د جمعي په څېر یې یاده (یا) په اخیر کې نه وه راغلې په دې حالت کې د فونیم شکل لري،لکه: ادې،ناوې،خوابښې او داسي نور...

او کله چې بیا د هغه مونثو کلمو چې وروستی فونیم یا د تانیث نخښه یې(ه) په ښکاره توګه تلفظ شي په هغه حالت کې د هغو کلمو جمع د دغه واول په واسطه تر سره کېږي او د مورفیم رول لوبوي،لکه:

کوټه ...... کوټې

اوږه ...... اوږې

پښه ......پښې

سینه......سینې

**یادابښت**:په ټولو اوسنیو ګرامرانو کې په واضحه توګه لیکل شوي دي چې ټولي هغه مونثي کلمې چې د (ه) باندي ختمي وي باید په (ې) باندي جمعه شي.(۷:۶۵) دا یوه غلطه قاعده ده او د فونولوژیکي نورمونو خلاف کار دئ ځکه په پښتو ژبه کې د کلمې د پای مورفیم د کلمې په مورفولوژي کې تغیر راولي مګر دغه قاعده له مورفولوژیکې قواعدو خلاف ده د دغي مسئلي د ښه وضاحت له پاره زه د دغه مشکل د حل له پاره درې مورفولوژیکې د حل لاري وړاندي کوم چې یو په بل پسي په لاندي توګه دي:

1. د نرۍوالو مورفولوژيکي اصولو په نظر کې نيولو سره دا کلمات بايد د ژبپوهنې په لابراتوارنو کې معاينه شي او وروسته يې ګرافيمونه ورته و ټاکل شي چې ستاسو د ښه ترا پوهېدو په موخه تاسو لاندي کلمات چې په (ي) باندي جمع کېږي له ځانه سره و لولئ او بيا په څنګ هغه کلمات چې په (ې) باندي جمع کېږي و لولئ چې تاسو ته معلومه شي چې دا دوې جمعي د اوازنو د ادا له مخي څونه توپير سره لري او پورتنۍ قاعده غلطه ثابتوي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پزه | پزي | پښه | پښې |
| سترګه | سترګي | اوږه | اوږې |
| ګوته | ګوتي | سږمه | سږمې |
| ښځه | ښځي | پتاسه | پتاسې |
| پېغله | پيغلي | ښائيسته | ښائيستې |

اوس تاسو ګورئ که چېري تاسو لومړۍ کتار جمعي و لولئ نو يو ډول نرم اواز ورکوي او کله چې دوهم کتار جمعي و لولئ نو يو ډول کش يا اوږد اواز ورکوي د ژبپوهنې په لابراتوار کې چې کله اواز ثبتيږي نو د دغو دوو جمعو ګراپ په بشپړه توګه يو د بله په توپير کې ښي.

2. د دغه مشکل د حل له پاره دوهم اصل يو ګرامري اصل دئ. هغه داسي که چيري د هري مونثي کلمې په اخيري کې راغلې دا تانيث نخښه په ښکاره توګه يا په نسبتي لوړه توګه و ويل شوه هغه کلمه بايد په اوږده (ې) جمعه شي لکه:

| | |
|---|---|
| خپره | خپرې |
| کږه | کږې |
| شېله | شېلې |
| توله | تولې |
| شپه | شپې |

او که چېري د تانيث علامه د ويلو په وخت کې سپکه او کرار لوستل کېده او ډېر زور نه پر راتلی په هغه وخت کې بايد په نرمه (ي) باندي جمع شي لکه:

| | |
|---|---|
| کونډه | کونډي |
| پنډه | پنډي |
| منډه | منډي |
| ټنډه | ټنډي |
| غونډه | غونډي(۱۰: ۲۶) |

3. دریمه او تر ټولو ښه لاره دا ده چې موږ د خج،فشار یا زور په وسیله د دغه مشکل له پاره د حل لاره را و باسو هغه داسي که چیري په یوې کلمه کې خج یا فشار د کلمې پر اخیري واول وو نو بیا باید هغه کلمه په اوږده(ې) باندي جمعه شي لکه:

| | | |
|---|---|---|
| کوټه | k w ṭ á | کوټې |
| غوټه | ğ w ṭ á | غوټې |
| پلمه | p a l m á | پلمې |
| چینه | č i n á | چینې |
| ترانه | t a r a n á | ترانې |

اوس په پورته کلمو کې موږ وینو چې خج د کلمې پر وروستي واول باندي دئ نو دا ټولې جمعي باید په اږده (ې) باندي جمعه شي.

او که چیري خج پر ماقبلول اخیر واول باندي وي نو په هغه صورت کې بیا باید چې په لنډه (ي) باندي جمعه شي لکه په لاندي مثالونو کې:

| | | |
|---|---|---|
| کوټه | k ẃ ṭ a | کوټي |
| غوټه | ğ ẃ ṭ a | غوټي |
| هیله | h í l a | هیلي |
| بته | b á t a | بتي |
| ونه | w á n a | وني |

اوس تاسو له درو لارو د دغه مشکل د حل لاره و لیدل چې هم یې ګرامري بنسټ او اساس درلودئ او هم نوی ژبپوهنیز. دا مشکل د پښتو کلاسیکو متنو پر استناد هم د حل لاره لري خو دا چې په نوې ژبپوهنه کې تاریخي ژبپوهنه چندان ارزښت نه لري زه یې تر څېړنې تېرېږم او هیله من یم چې پښتانه تر ښېځایه سر زوری تېر او د علمي او اکاډمیکو نورمونو په نظر کې نیولو سره د دغې مسئلې ژورو ته ور و لویږي. (۱: ٤۱)

٦: **اوږد واو**______(**و**)______(u)

په پښتو ژبه کې په ټولو هغه کلمو کې چې په اخیر کې یې اوږد واو راشي هغه ټولې کلمې مونثې کلمې دي چې د جملې جوړښت په ځان پسې اړوي،لکه: بیز ،پیشو،زانګو او نور.

۷: **لنډ واو**______(**و**)______(o)

په پښتو ژبه کې ټولې هغه کلمې چې لنډ واو یې په اخیر کې راغلی وي مذکري کلمې دي او د جملې جوړښت په خپل ځان پسي هم هغسي ورکاږي،لکه: سالو،تالو،بازو او نور.

**یادابنت**:په پښتو ژبه کې د دغو دوو واولونو پرته نور واونه هم شته مګر هغه واونه د ډیپتهانګونو په څېر کارېږي چې دلته زموږ د بحث مورد نه دي او بله خبره دا ده چې هغه په اصل کې کانسونیټونه دي چې د واول رنګ یې اخستی چې اوسني ژبپوهان یې په تېروتنه سره نیمه واول بولي.

پورته مو په خپلواک اواز پای ته رسېدلي کلمات بحث کړل. خو د یادوني وړ ده چې په نا خپلواک اواز ټولې پای ته رسېدلي کلمې مذکري دي مګر یوازي هغه مونثي کلمې چې د مانا له مخي او یا هم ذاتاً مونث دي هغه په دغه کټګورۍ کې نه راځي لکه: خور، مور، ایندور، مړور، یور او ...

**پایله**:

په پایله کې ویلای شو چې پښتو ژبه له نورو اریایي ژبو سره په پرتله اوسمهال تر ټولو قانونمندنه ژوندۍ ژبه ده چې خپل لرغوني جوړښتونه یې ساتلي دي. موږ د دغي ژبې د ځینو بشپړو ګرامري مقولو په مرسته کولای شو چې د ځینو لرغونو اریایي ژبو اوسنۍ ستونځمني او تخریب شوي خوا وي و رغو. بله اساسي او مهمه خبره دا ده چې ځیني خلک په خپل سري توګه په پښتو ژبه کې له ځانه نوي فورمولونه او موضوعات راباسي چې د دغه ژبې د لرغونو فورمولونو په تشریح او توضیح سره به د دغه ډول خود سریو مخه و نیول شي.

د پښتو ژبې د مونث او مذکر موضوع اوس ځکه زیاته مهمه ده چې زیات شمېر د نورو ژبو ویونکې د دې ژبې د زده کولو کوښښ کوي نو باید چې د نورو ژبو د ویونکو له پاره اسانه او داسي فورمولیکي لاري استفاده شي چې د زده کړې له پاره یې اساتنیاوي زیاتې او علاقمندان ورځ تر بلي ډېر شي.

په پورته لیکنه کې پر ځینو ستونځو او حل لارو خبري و شوې چې په هیڅ صورت دا وروستۍ څېړني او خبري نه دي په دغه لاره کې به نوري څېړني کېږي او نوري لاسته راوړني به تر سره کېږي. د اوس له پاره د مونث او مذکر د معلومولو په نیامت همدومره کفایت کوي.

## حوالې

1. اڅک، پوهندوی بایزید،(۱۳۸٦ ش)، فونولوژي،(چېپټر نوټ)،کابل پوهنتون- پښتو څانګه، کابل
2. پنزل، هربرت،(۱۳۸۹ش)،د پښتو ګرامر، (ژباړه: محمد رحیم الهام)،(دوهم چاپ) دانش خپرندویه ټولنه،کابل
3. خویشکی، پوهاند محمد صابر،(۱۳۹۵ش). پښتو معاصر ګرامر، جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل
4. خویشکې، محمد صابر،(۱۳۸۹ ل)،پښتو غږ پوهنه او ویپوهنه مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار
5. ډارمیستیټر، ګایګر، مروګنستیرن، بن ونیست، (۱۳۵٦ش). تاریخ تلفظ و صرف پشتو.(دوه جلده).(ژباړه: د کتور روان فرهادي). کابل: پوهنځی ادبیات و علوم بشري پوهنتون ،کابل
6. زیور، پوهندوي ډاکټر زرغونه ریښتین،(۱۳۸۲ ش)، پښتو نحوه(ګرامر) ،د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور
7. رشتین، صدیق الله، (۱۳۲۷ش). پښتو ګرامر،(جز اول)، پښتو ټولنه ،کابل
8. رشتین، صدیق الله. (۱۳۷۰ش). ګرامر پښتو. (جز دوم). کابل: د ښوونې او روزنې وزارت.
9. زیار، پوهاند دکتور مجاور احمد زیار. (۱۳۸٤ش). پښتو پښویه.(درېیم چاپ). کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
10. کندهاری، مولوي صالح محمد هوتک. (۱۳۱٦ش). پښتو ژبه. کابل،
مرهون، محمود. (۱۳۹٤ش). د ژبپوهنې بنسټونه. کابل: کائینات څېړنیز او د ژباړې مرکز